**ليکونکی**: عمران فیروز (Emran Feroz).
**منبع اود خپریدو نیټه** : انتی وار «2020-03-27» .
**ژباړونکی** : پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل» .


--------------[ 41 ]-----------------------------------------------------

# په افغانستان کي دبی پیلوټه الوتکی پواسطه مړینه دامریکی دمتحده ایالاتو ناولی اوشریر میراث

# Death by Drone: America's Vicious Legacy in Afghanistan

**لکه څنګه چي متحده ایالاتو له افغا نستا ن څخه دوتلو تیاری نیسي ، دلته په زرګونو وژني بی پایلی اوبی ثبوته پاتي کیږي اوواشنګټن ددی مړني په اړه له خبرو کولو ډډه کوي**

***As the United States prepares to leave, thousands of killings remain unprobed, and Washington refuses to talk about them***



***په ا فغا نستا ن کې د ماموریت لپا ره کارول شوې یوه بې پیلوټه الوتکه په نیواډا په (2009 ) کې لیدل شوی ریک لوومیس / لاس انجلس ټایمز د ګیټي امیجز له لارې.***

عادی افغانان وایی چی دا ډول پیښی یعنی د دی بی پیلوټه امریکا یی الوتکی واروګذار ځوځوځلی راپیښ شوی اویو ځل هم هیڅکله د هغه په اړه دا ډول خبر دا فغا نستا ن څخه

دباندي نه دی خپور شوي . تير نومبر میا شت کی یوه ریبونکې (درو کننده ) بی پیلوته الوتکه دافغانستان سهیل ختیځ ولایت دپکتیا په غرنـي سیمه کي دکلیوالو یوی ډلی په نښه کړه اودهغوی اوه تنه یی ووژل ، دی ځای یعنی پکتیا کی له اوږدي مودي څخه د طا لبانو وسله والو کورونه یا چي هغوی دلته استوګنه درلودل- خو ځا یی اوسیدونکې وایي چي قربا نـی شوی خلک ټول اولیسی وګړي وو . چي پکي دری تنه ښځی اویو ماشوم هم شامل وو ، دوي لیری پرتي سیمي ته تللی ووترڅو خپل څاروي وڅروي اویو څه لرګي را ټول کړي ،چی ناڅاپه دوی سره واړه ددی امریکایی بی پیلوته الوتکي دبمونو په ګذار سره خپل ژوند دلاسه ورکړل.

« هیڅوک زمونږ خبروته غوږ نه نیسي ، زه شک لرم چي وژونکي به یوه ورځ دعدا لت سره مخ شي خدای پاک زمونږ یواځنی هیله ده « دپکتیا دځاځی اریوب ولسوالي اوسیدونکي **محمد انور** وویل : هغه جنایتکاران چی دهغوي په اړه خبری کویي ، هغوی دمتحده ایالاتو په یو شمیر نظامی اډوکي نا ست دي چیری چي ددی امریکایی بی پیلوته الوتکي عملیاتونه ترسره کوي .»

د **انور** په وینا ، څوک چي دقربانیانو دکورنی پوری اړه لري ، وایی : ځنی کورنـي خپل نارینه ډوډي راوړونکی له لاسه ورکړي ،ځکه چي ډیروختونه دورته بریدونو وروسته داسی پیښی را پیښ شوي دي . دوی مایوسه اویا ناهیلي دي ددوی راتلونکي خورا نا څرګنده ده، هغه په تیلیفوني مکالمه او خبرواترو کي په بهرنـی پالیسی باندي خبری او ګوتڅنډ نه وکړ او اوس هم دا دپخوا په پرتله خورا ناڅرګنده ده چي د (18) اونیم کا لو جنګ جګړي څخه وروسته دمتحده ایالاتو اودطالبانو نوی لاس لیک شوی متارکه بیاهم ځنی پټ او پټها نـي تړاونه (ضمایم) لري چي دراپوررونو سره سم طالبان شوروشی یاغی ډلو ټپلو ته اطلاعات ورکوی یا دهغوی په اختیار کي اطلاعات ورپه لاس کي اچوي چی د متحده ایالاتو د قوتونو دوتلو په مها ل کي پرهغو با ندي حمله ونکړی اود حملاتو یا د بریدونو مخه ونیسی- د بلی خوا څخه دافغا ن د ملی وحد ت حکومتی غړی یا مقاما تو ته دسولی په مذاکراتو کی ونډه نه ورکوي یعنی چي دافغان دولتی چارواکي دامریکی اود طا لبا نو د سولی د مذاکراتو څخه دبا ندي سا تل شوی دي اوحتی چي مخکي له دي عادی افغا نا ن کوم چی په بی خبری کي هیڅ یو ډول عدالت ته غاړه نه ایږدي اواصلاً نه پوهیږي چي د بی پیلوته الوتکي دبریدونو عاملین همداسی بی پوښتني پا تي کیږي یا داسی چی هغوی له پوښتنی درویجنی څخه لاس پرسر شي ؟ **اسلام خان** دپکتیا دولایت اوسیدونکي وویل : مونږ دهغو لپاره لکه د میږیا نو په شان یوو – که نه قا تلین باید هرومرو محکمه شي که چیری داسی ونشي نودا یواځی په ډاګه کیږي چي غربی نړي دهغو افغانانو پروا نه کوي چي خپل دکورنی غړی ددی بی پیلوته الوتکي دبمباریو له کبله دلاسه ورکړی دي .

په ا فغا نستا ن کې د امریکا یي ځواکونو پخوانی ډرونیکي (دبی پیلوته الوتکي ) تکنیشن **لیزا لینګ** په وینا ، د بې پیلوته الوتکو د بریدونو له امله د ملکي تلفاتو پیښه باید وڅیړل شي او د جنګي جرمونو په توګه وګنل شي .هغې وویل ، "زه فکر کوم هر هغه اعتصا ب چې

يکې د ټولنې مشران خبرې کوي او موږ ته وايي چې موږ د دوی ملکي وګړي وژني بايد د نړيوالې جنايي جرم وشميرل شی اود نړيوالې محکمې لخوا په بشپړه توګه وڅېړل شي او نړيواله ټولنه يې با يد واوري **"لينک"** چې د بې پيلوټه الوتکو بريدونو يو غښتلی او سخت انتقاد کونکی دی ، په دې باور دی چې "دا ډول جنګ په څو کچو غلط دی" او دا چې متحده ايالات نشي کولی "له ترورسره مبا رزه وکړي ؟ يعنی تروريزم دتروريزم سره مبارزه کول.

هغه څه چي دلته دهغه يادونه لازم ګڼل کيږي هغه داد ي : چي نه دمتحده ايالاتو پوځ اونه هم (سی آی ای) ددی داستان يا ددی کيسی په اړه دنظر غوښتونکو ته ځواب ويلي ؟ مګر دواړو په ګډ همغږي سره دبی پيلوټو الوتکو (بريد ونه) ددقيق بريد په توګه تشريح کړی يا ستايلی دی چي (وسله وال) يا (مشکوک ترهګر) وژني اوپه ځمکه کي بيا وروسته د درون (بی پيلوټه الوتکي) د ضربا تو د پايلي په اړه ډير نا در څيړني يا تحقيقا ت ترسره کړي .

دهغه وروستی تحقيق او څيړني څخه کوم چي دامريکي دنظامی ديوی رسمي نهاد يا داداری له خوا د (228) پر پيښو با ندي له (2002) تر(2015) کلونو پوري په افغانستان عراق اوسوريه کي ترسره کړي – نودغه څيړونکو زيا تر پر غير مترقبه تلفا تو با ندي تم شوی يا څرخيدلي بی له دی چي د ملکي خلکو د تلفا تو په مورد کي ځانګړی ناسته کړي وی يا چي ورباندي خبری ترسره کړي وي . پوځ يواځی (16) سلنه دتلفاتو په اړين ساحوی څيړني دملکی خلکو دتلفاتو دارزيا بی دشخړی دمرکز ، دکولمبيا د بشری حقوقو د ښونځی دڅيړنوالو په ګډه مرسته سره ترسره کړي دي او بس؟



- *img src = "https://fireignpolicy.com/wp*
*د" ] =content/uploads/2020/03/Afghanistan-drone-balkhx3.jpg" Alt*
***افغانستان په شما لي ولايت ، بلخ کې ماشومانو داپريل مياشت کال ( 2019) کې هوايي بريدونه ډير شوي وروستي مياشتې. " ټولګی "" د عکس الينګون اندازه]-***

داپریل میا شت کا ل (2019) دلته دا فغا نستا ن په شما ل د بلخ په ولایت کي هوایی بریدونه په دي وروستیو میا شتو کي شد ت موند لي داهغه څه دی چي ښاغلی **عمران فیروز** دبهرنی پا لیسی سیا ست پوه وایي :

« په پکتیا کي همدغه ورته هوایی بریدونه دبی پیلوته الوتکي پواسطه سره ترسره کیږي » اما هغه څه چي پری باوردي هغه دادي چي هیڅ یوامریکایي څیرونکي وروسته دبی پیلوته الوتکي دګذار څخه له اړینی یا له ضربه شوی ساحي څخه لید نه نه دی تر سره کړي اما دامریکي دمرکزی قومندانی یومقام په دري ژبه باندي دخپل تویتر په پا نه کي داسی راپور خپورکړي چي په ورته وخت کي دفاریاب ولایت څخه دوسله والوطا لبا نو غړی وژل شوی خو د بی پیلوته الوتکي دبرید اودملکی خلکو د تلفا تو څخه په تویت کي یادونه نه دی کړي.

د متحده ایالاتو اود طا لبا نو د وروستی متا رکی سره سره **د ځا ځی اریوب** اوسیدونکي اوس هم ویره لري اووایي : چي دوی له کلونو راهیسی دامریکایی بی پیلوته الوتکو بریدونه زغملي دي او دا چي د دوی برخه لیک ډیر ځله په کا بل کي د متحده ایالاتو پوځ اوافغا ن حکومت له پا مه غورځولي دي بیله خبره دي ؟ دوی یعنی امریکا یا ن او افغانی خواووی وایي چي دوي ترهګروژني مګر دا ادعا ریښتیا نه دي – بزګران ، شپا نه او ښځی ترهګر نه دي ؟ د قربا نیا نو په جمله کي **نقیب جان** دوه کلن ماشوم هم تر سترګو کید ل چي خپل ژوند دلاسه ورکړي وه . **خا ن** کوم چي هغه په یوه کلیوالي ښونځی کي دښونکي په توګه کارکوي وایی چي د تیرو میا شتو اوکلونو په جریان کي د هغه ډیرو خپلوانو او دهغه دکورنی غړی د بی پیلوته الوتکو په بریدونو کي وژل شوی ، هغه ادعا کوي چي دهغه نور ملګری ډارید لي اوغمجن دي په صد ما تو اخته دي اوبا داچي ډیر ماشومان دلوبی څخه دکور نه بهر ویره لري .

**خان وویل** : مونږ هڅه وکړه چي خپل غږ اوچت کړو اوحتی چي مونږ له اولسمشر محمد اشرف غني سره په دي مسله باندي شخړه هم وکړل خو هغه پروا ونه ساتل ؟

په داسي حا ل کي چی په تیرو وختونو کي پخواني اولسمشر **حامد «کرزی»** د متحده ایالاتو دهوایی بریدونو په اړه جدی دریځ خپل کړ اودعا مه خلکو په مخا مخ پرامریکي باندی نیوکي وکړ ، اما د «غنی» اداره کوم چي دمرستي او ملاتړ لپاره په متحده ایالاتو پوري بشپړ تړلی اداره دي نو طالبانو چی دافغانستان ډیری برخي تر لاسه کوي نو دغه هیواد( افغان حکومتی مقاما ت) ترزیا ت حده پوري ترجیح ورکوی چي د واشنګتن د «تروریزم » په وړاندی سراسری جګړی روایت پوری خپل پالیسی ته تطابق ورکړی نو ځکه افغانی لوړ پوړي چارواکی دملکی وګړو تلفا تو ته توجه نه کوي حتی چی په ځنی مواردو کي د«غنی» پوری تړلي مقامات هغه راپورونه او ګذارشا ت کوم چي د یولړ بی طرف اومستقل منابعو لخه دبشری حقونو دسازمانونو پواسطه سره د ملکی تلفاتو ثابت او ریښتیا نی ارقام وړاندی کوی رد وی یا دهغو ګذارشات نه مني اما هغه څه چی دویلو دی هغه دا دی چي امریکا یی مقا ما ت داسی ادعا کوی چی د دوی بی پیلوته الوتکي د افغا ن د مقاماتو د راپور پر بنیاد دلته اوهلته بمی ګذارونه کوی چی دهغه په ترڅ کی ملکی خلک هم

وژل کیږي .

د مارچ د میا شتی په لمړیو کي دنړیوال جنایی محکمی ( international criminal court) قاضیانو په افغانستان کي دجنګي جرمونو اودبشریت په وړاندي د جرمونو په اړین د پوښتنو اود تحقیقا تو اجا زه ورکړ. کوم چي د دی کا رسره د پخواني ردکړشوی څیړلو موضوع رد کړ، اوبیا عمد تاً چي د نړیوال جنا یی محکمي د اعلامیی له مخي د امریکا اودا فغا نستا ن د طا لبا نو دکړنو پوري په ارزیا بی او څیړلو باندي تاکید شوی دي- چي دهمدي اعلامیی دخپریدو څخه بلا فاصله دامریکی دباندنیوچاروو‌زیر **(پمپیو)** دنړیوال جنایی محکمی پر پریکړي باندی نیوکي او حمله وکړ اوهغه یي یو ډول (بی پروایي) پریکړه وباله اوویل چي متحده ایالات به په راتلونکو اونیو کي داسی اقداما ت به ترسره کړي چي د خپل اتباعوڅخه ژغورنه وکړی چی دغه بین المللی محکمی ته ونه سپارل شي هغه یعنی «**پمپیو**» په یوه خبری کنفرانس کي وویل : « دا دغیرحسا بی سیا سی اداری له خوا یو ریښتیني ساه لنډونکي عمل دی چی دیوقانونی ارګان د تحقق په حا ل کی دي » .

د متحده ایالاتوداحتما لي جنګی جرمونو اویا جنا یتونوپه نظرکی نیولو سره ،نړیوال جنایی محکمه پر (سی آی ای) با ندي د شکنجی ورکولو اوپه جبری بڼی سره داشخاصوتریتم کید ل (ورک کیدل) اودغیر مجازوژنو قضیو د ادعا څیړلو ته په متمرکزبڼی سره سپاریښتنه ورکړ شوی دي . په هرصورت د مختلفو راپورونو سره سم د بی پیلوته الوتکي ( بریدونه) لکه هغه څوک چي د(**خا ن**) دکورني غړی یی له مینځه وړي په تحقیق یاددی محکمی په ارزونه کی به شامل نه وي ، دا بریدونه د نړیوال بشر دوستا نه قا نون څخه سرغړونه کید لی شي مګر دا پخپله جنګي جرم نه جوړوي کوم چي که چیري قصداً یا په پوره بی پروایي سره ترسره شوی وي ، مګرد بی احتیا طی تاکل (یعنی چي دکړنی په وخت کی بی احتیاطی شوی وي) دشواهدو په هر حا لت کي حقوقي تحلیل ته اړتیا لری . **پاتریشیا ګوسمن**( Patricia Gossman) دبشری حقونو دڅارلپاره دآسیا دهمکاری کمیتی ته دبریښنا لیک دلاری پواسطه سره پر بهرنی سیا ست باندي رڼا واچوله یعنی چي خپل نظر هغه کمیتی ته ولیږدول.

متحده ایالاتو هم د دي ډول حملو اوبریدونو با ندي کوم غوڅ اویا موثر څیړني نه ده تر سره کړي دحقونو چاروکي په ځانګړي توګه وایي :له هغه وخته چي په کا ل (2014)کي دنړیوال امنیت ملاتړ له مینځه تللی نو دمتحده ایالاتو پوځ یوځل بیا په کنترول کی وه.

لاندی د **محمد کبیر** عکس دمی میا شت کال (2017) کی ، کوم چي هغه د میدان وردک ولایت په یوه کلی کي ژوند کوي ، هغه وایی چي مونږ دشپی له خوا واروار دخارجی قوتونو د شپی عملیاتونو تربریدونو لاندي راغلی یوو ،هغه څرګند کړ چي د هغه ورور دبی پیلوته الوتکي په بمب ګذاری کي خپل ژوند دلاسه ورکړ ،نو دلته له همدی امله هرڅوک دبی پیلوته اولوتکي دحملو څخه په ډارکي ژوند کوي اوما شوما نو دهغه له ویري څخه د شپی خوب نشي کولاي ......... دبهرنی سیا ست لپا ره عمران فیروز



**محمد کبير د خپل کورنۍ سره**

په پکتيا کې د قربا نيا نو د کورنۍ غړي پدې با ور دي چې د بشري حقونو سرغړونو په نوعيت کې هيڅ شک نشته."موږ با ورنه لرو چې دا يوه تيروتنه وه.دا ډيری وختونه پيښيږي. موږ غواړو چې مجرمين د تعقيب او محاکمې سره مخ شي. نور افغا نا نو هم د هغه نظريا تو سره ځان شريکوي. "دا جنګي جرم دی ، او با يد سمې محاکمه شي. موږ د ټکو او ټکو کولو سره علاقه نلرو. موږ عدالت غواړو. دا د زړګونو پيښو څخه يوازې يوه قضيه ده چې د( 2001 ) کال تر پايه راپديخوا شوې ده. "داهغه مطلب وه چې عبدالملک «ځاځی» دپکتيا دشورا مشر په تيليفون کې څرګند کړ.

افغانستان په نړۍ کی يو له هغه هيوادونو څخه شميرل کيږی چی دهرنور هيواد په پرتله دامريکی دمتحده ايالاتو د بی پيلوتو الوتکو تر بمبا ری لاندي پريوتي دي يعنی چي افغا نستان يواځی په کال (2019) نسبت نورو کلونو په پرتله له هغه وخته چی ددفاع وزارت په کال (2006) په کارپيل کړي زيا ت بمباری شوی دي – او هغه ارقام چی دامريکي متحده ايالات پرافغا نستا ن باندی د بمباريو په اړه تا زه راپورخپور کړي داسی ښيي چي په کا ل (2019) کم ترکمه (7423) بمونه اونورمهمات دافغانستان پرقلمرو باندي له پاسه غورځولي دي کوم

چي دکا ل (2015) په پرتله دبمونو دغورځولو کچه (اته) برابره ښودل کيږي يعنی چي په متوسط ډول هره ورځ (۲۰) بمونه غورځول شوی .
په دی شمير غورځول شوی بمونو کي دمتحده ايالاتو پوځ دبی پيلوته الوتکی له خوا ترسره شوی بريد ونو يا د دوديزو الوتکو پواسطه د ترسره شوی بريدونو ترمينځ توپير نه کوي د (2001) کا ل په پای کي دبی پيلوته الوتکي د بمب غورځوني عصر يا دوره راپيل کيږي يعنی کوم چي د لمړی ځل لپا ره بی پيلوته الوتکي خپل بمب دا فغا نستا ن پر خاوره باندی غورځوي .
د لند ن ميشته تحقيقا تی دفترپه وينا کوم چي د نړی په کچه دمتحده ايالاتودبی پيلوته الوتکو دجګړی ځا رنه کوي هغه وايي چي په کا ل (2019) په ا فغا نستا ن کي بی پيلوته الوتکي (825) بريدونه ترسره کړي اما لا تراوسه د دی الوتکو د بمونو دغورځول پواسطه سره دقربانيانو شميرڅرګند شوی نه دي اودا ځکه چي دغه بريدونه په ډير ليرو سيمو کی ترسره کيږی لکه په ځا ځی اريوب کي .
امريکايان ددی جګړي له ماهيت اودنړيوال تولني له وضيعت حخه ګټه پورته کوي ، دوی باور لری يا په دي عقيده دي چي دوي له قا نون څخه پورته يا داچي استثنای خلک دي . کريم پوپل افغان جرمن قانون پوه چی **د نا تو** دکا ل (2009) دکندوز په ولايت کي د هوايی بريد له امله چی ديو الما نی ډګروال په امر سره ترسره شوی وه اودهغه په ترڅ کي زيات خلک خپل ژوند دلاسه ورکړ وکيل ټاکل شوی وه وويل : دالمان يومحکمی دغه قتل عام د جنګي جرمونو په توګه په پام کي نيولو اودقربانيانو کورنيو ته دتاوان يا د غرامت ورکولو څخه در رد امر صا در کړ – اوهغه څه چي دويلو دي دا دي چي دغه ډګروال نه يوازی داچي محکمه نشو بلکه هغه ته په دي وروستيو کلونو کي يوه بله رتبه ورکړ شو يعنی چی هغه ترفيع وکړ .
اما په دي وروستيو کي د فرانسی **په سترا سبورګ** (strasbourg) کی داروپا دبشری حقونودمحکمی مخی ته يوه محکمه جوړ شو چی تر دی دمه دهغه کوم پايلی نه ده څرګند شوی .
**پوپل** د تليفون په مزي کي داسی وويل : دا لويه بريا ده اما په ورته وخت کي داڅرګنده ده چي زيات ولويديځ هيوادونه په شمول دجرمنی اومتحده ايالاتو ددوی سرتيرو دترسره کړ شوی جرمونو په څيرلو اويا بررسی ته چندان ليوالتيا نه لری ، نو تاسی اوس تصور وکړي چي هغه افغان پلار يا مور چی دا خبره اوريدلی وی چی هغه څوک چي ددي ماشومان يا زامن يی وژلی دي نه محکمه کيږی بلکه لا نور هم ترفيع کوی هغه ته څومره خواښينی کونکي وي اونړيوالو ته څومره شرمونکي به ښکا ره شي ؟
**»2020-04-01« په درناوی** ----------------------------------